مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۸/۱۰/۰۳

# د بېکسیار د ډک زړه ځپي

## او

## «لکه خوب هسې وختونه»

## (د عبدالمالک بېکسیار د ژوند او شاعرۍ لنډ جاج

## اومه او وروستۍ برخه




بیکسیار له نورو شاعرانو سره په توپیر کې یو بل وړوکی بدعت هم کړی دی چې کومه لنډه یا اوږده موده چې ده د شعر په نامه څه نه دي تخلیق کړي، د «لکه خوب هغه وختونه» په ټولګه کې یې څو ځایه د وقفې زماني واټن قید کړی دی. دا د ده خپلې لیکلې جملې دي:

«یادښت: لدغه شعر نه بیا تر راتلونکي شعر پورې د څلورو میاشتو یوه فاصله موجوده ده چې ورکې شعر ندی لیکل شوی.»

(لکه خوب هغه وختونه، ۱۲۱ ام مخ)

«دلته بیا د اوو میاشتو شعري فاصله راغلې.»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

(لکه خوب هغه وختونه، ۱۲۶ ام مخ)

د بیکسیار دې یادونو ته په کتو سره سړی داسې ویلای شي چې: بیکسیار د شعر د نه تخلیق د وقفو په ښودلو سره، په حقیقت کې له هغو څیړونکو سره مرسته کړې ده چې په راتلونکو کې د ده پر اشعارو او افکارو باندې څیړنې کوي.

د بیکسیار په شعرونو کې له روسي او امریکايي استعمار نه د کرکې نښې هم لیدل کیږي او لکه د اند صاحب خبره: دی تولـه پـړه پر نورو وراچوي، ځانته یې پام نه دی چې د ملامتـتیا ډېره سلنه زموږ افغانانو په برخه هم ده. دا بېلګه ولولئ:

دوه «بې دوه پنځوس» دا اوس ترینه واپس شوې
د ګــودر غــاړې شــودیـــارې، اوښــکــې ویــنــې

(لکه خوب هغه وختونه، ۱۱۴ ام مخ)

مــیــدانـــه! لــه شــوتـلـو چـنــارو نــه دې لوګې
د روس د تېښتې نښې دې، له غرو نه دې لوګې

(لکه خوب هغه وختونه، ۳۲ ام مخ)

بیکسیار د مهاجرت د ځینو مجبوریتونو له کبله د کابل د دارالمان له لارې نه لومړی دوغ آباد، بیا ګلباغ، وروسته له هغه د چهل دختران له لارې له شاعرانه احساس سره، د للندر د غرونو لوړو څوکو ته خیژي او د میدان ښار ننداره کوي: مثال:

د پېښـور ګرمیو وسوم، وسوم، وسومه نـور
ور ځنې تښتمه، ځم بیرته میدانښار ته خیږم

(لکه خوب هغه وختونه، ۱۱۸ ام مخ)

د بیکسیار په دې ټولګه کې کله، کله چاپي تیروتنې هم شوې دي چې دا په هر کتاب کې کیدای شي، خو هیله دا ده چې په بل چاپ کې دا تیروتنې تصحح شي. لکه:
نرور، چې جمع یې نریندې کیږي، د «نګیندې» په بڼه چاپ شوې ده. (۷ ام مخ)

لکه د ځینو نورو شاعرانو د شعرونو په څېر، که د بیکسیار شعرونه هم د وزن پوهنې په تله کې وتلل شي، کېدای شي یو څه ستونزې به پیدا شي چې د هیڅ شاعر تخلیق له دې نیمګړتیا خلاص نه دی، خو په ټول کې که د بیکسیار نوې چاپ شوې ټولګې (لکه خوب هغه وختونه او د څپو چې زړه راډک شي) له پخوانیو ټولګو سره مقایسه شي، وبه لیدل شي چې دی په تصویر جوړونه کې او د خپل فکر په لیږد کې بریالی او مخ په بره روان دی.
بیکسیار د پښتو ژبې په خزانه کې دوه نور قیمتي غمي وراضافه کړل او د خپلو اتو واړو شعري ټولګو په تخلیق او خپرولو سره یې، د پښتو ژبې د تخلیق او شاعرۍ پر دیواله باندې، اته زرینې خښتې ور کېښودې.
ما که د بیکسیار په شعر کې او په ځانګړي ډول د «لکه خوب هغه وختونه» ټولګه کې ځینو نیمګړتیاو ته نغوته کړې ده، اصلي موخه مې دا ده چې د ده شعر نور هم په ښکلو انځورونو غني او له ژبني او انځوریز پلوه غني شي او د شعر رنګیني یې نوره هم ښکلې او وځلیږي.
ما د اروپا میشتو شاعرانو او کیسه لیکوالو د تخلیقي آثارو په باب ویلي دي چې د مهاجرت په چاپیریال کې د تندو نیوکو او د نقد په مسلکي تله کې د آثارو تلل به شاعران او لیکوال یو څه مایوسه کړي، بیا کیدای شي چې د همدې ګوتو په شمار آثارو تخلیق هم بند شي، او که یې له ځینو نیمګړتیاوو سره رامنځ ته کوي، یو څه سلنه داسې شعرونه او کیسې به هم په کې تخلیق شي، چې سبا د تل پاتې آثارو په ډله کې د ژبې د غنا او ښکلا سبب شي.
او که سمدلاسه څوک له ما نه د بیکسیار د شعرونو او تخلیقاتو کره کتنه غواړي، دا په خپله کره کتنه ده چې ما یې په شعر کې ښکلا لټولې ده چې پاس مې یې د شعر ښکلي انځورونه په نښه کړل او ځینو نیمګړتیاوو ته یې اشاره هم شوې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولـئ

د کره کتني د اصولو په برخه کې يو مسلکي کره کتونکی وايي چې:
«په هنري آثارو کې د کره کتني تر ټولو لومړنی موخه، په اثر کې د ښکلا پلټنه ده. د ښکلا موندنه ده. په هنري اثر کې د عقلاني دلايلو په مرسته، د ښکلا او نا ښکلا، د ښو او ناښو بېلول هم کېدای شي، د کره کتنې د چارې دوام وګڼو.»
او دا کار ما پاس کړی دی، د ښاغلي بيکسيار د شعر ښکلي انځورونه مې په نښه کړي دي او د «لکه خوب هغه وختونه» په ټولګه کې مې ځينو ژبنيو او د شعر نيمګړتياوو ته اشاره کړې ده.

په پای کې د بيکسيار د کلام يوه ښه او غوره بيلګه:

سوال، ځواب

**ما پنجابی، يوې نيمزالې، هټيوالې نه شنه مرچ رانيول**

**ډېرو پېټيو کې ښه ښکلي او ښايسته، تازه، رنګ ـ رنګ مرچ پراته**

**د تريخ د خوړ، د شنه د سره، د غټ د ووړ په فرق يې پوه نه شومه**

**له پېغلې ومې پوښتل: «وښيئ دي واړو کې ترخه مرچ کوم دي؟»**

**ويل يې: «ځومره ترخه؟»**

**زه لږ په سوچ کې شوم بيا نه پوهېږم ولې چې بس يو دم مې له خولې ووتل:**

**«دومره ترخه لکه زما د ژوندون»**

**هغه لږ موسکه شوه بيا زلفو ته يې شړک ورکړ په ناز يې ووی:**

**«زه ستا له ژونده خو خبره نه يم ځومره به تريخ؟**

**خو هغه ټولو نه چې ډېر ترخه دي**

**هغه همدغه دي دا ته چې ترې کڅوړه ډکوې لګيا يې.»**

(لکه خوب هغه وختونه، ۱۱۳ ام مخ)




پای

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ